کاندید اکادمیسین ظاهر اُفق

# تاریخ پرمُخ ځی، پرشا نه گرزی، خو کله کله، په یو بل شکل کی تکرار بریښی

## پیل،

## ۱- تاریخ د یوې ستری او مهمی پوهنی په څیر هم منطق لری او هم فلسفه، نو څنګه؟
## ۲- تاریخ کله کله تکرار بریښی، خو په بل شکل؛
## ۳- نتیجه؛

## پیل:

انسان او انسانی ټولنه تر بل هر ستر او قوی موجود لکه دایناسور، فیل او داسی نورو چی موږ یی پیژنو او تر بلی هر ډول حیوانی ټولنی او تجمع لکه د مچیو، میږیانو او بیزوګانو او داسی نورو، چټک پرلاری ځی؛ ډیره فاصله او واټن په لنډ وخت کی وهی او ټولنیز جوړښت یې د خپل کار او د کار د وسایلو په واسطه په هره ورځ، هره میاشت او هر کال ژر انسجام او پرمختګ مومی؛ وده کوی او نوی داسی حالتونه او شکلونه غوره کوی چی په یقین سره دا ټول صفتونه او ښیګنی بیا هم د انسان (اشرف مخلوقات) په انسانیت او د کار په ماهیت اړه لری. د هم دغه انسانی کار او تولیدی وسایلو د معقول انتظام په واسطه انسان آسمانونو ته وختوت او د انسانی ژوند ډیرو عالی مرحلوته پورته او لاهم پورته کیږی. د نوموړو پراتیکونو او فعالیتونو پر بنا انسانانو د خپل ژوند په اوږدو کی، بیل بیل رژیمونه او سیستمونه تأسیس کړل، چی یو لړ یی د زمانی د غوښتونو او ځینی یی د دښمنانو د دسیسو، چالونو او د ماکوجیکو نارمونو د ماهرانه تطبیق په نتیجه کی یا د سقوط سره مخامخ شول یا هم تر هم دغه ډول ضربو لاندی اوس هم شپی سبا کوی، خو په هیڅ صورت دغه لوړ چالونو او د ماکوجیک نارمونه د تاریخ د حرکت او تکامل عمومی سیر او محتوا ته تغییر نشر ورکولای.

ځکه تاریخ پر مخ ځی، پر شا نه ګرځی، ښه او بد، ناکامی او کامیابی، نیکمرغی او بدمرغی، انکشاف او انحطاط، جوړښت او خرابی او داسی نوری ټولنیزی پیښی او پدیدی د هغو تضادونو د موجودیت او مبارزو محصول دی چی د هم دغه عمومی تکامل او پرمختګ بنست جوړوی.

دا څرګنده ده، هغه ستر او یا واړه رژیمونه او هیوادونه چی پر منطقی ټولنیز اصالت Logical Collectivism باندی تکیه ولری، د بشری تاریخ په هغه مسیر کی واقع دی چی د زمانی په اساسی غوښتونو او اصواو په پیژندلو سره، نهایتاً، بری ته رسیږی، په هر نامه او هر شکل چی وی د ژوند په ډیرو مهمو برخو کی د اولسونو غوښتنو ته مثبت ځواب او د معاصر مرییتوب د ځینځیر زنګزده کړیانی یوه په بله پسی ځکه ماتولای شی چی ټولنیز واک په خپل ماهیت کی مستقیم او غیرِمستقیم ډول په اولسونو اړه لری او په قاطع ډول به د خلکو اراده د زور او زر د غلامی او تسلط څخهِ باسی. معنا دا چی انسانی اراده به نه خرڅیږی او نه به رانیول کیږی؛ فردی زوال ناپذیره (!) تسلط او اراده به په خپل نوبت خپل ځای ټولنیزی ارادی او عقیدی ته د تاریخی ضرورت له مخی پریږدی.

برعکس، هغه نظامونه او رژیمونه چې په فردی اصالت Individualism یې ځان تړلی دی، هرڅومره که د قدرت څښتنان وی او هر ډول پراخ دماګوژیک شکل یی غوره کړی وی، خو بیا هم په نهایت کی ژر او یا په ځنډ، د خپلو ټولنیزو حکمونو او عقیدو له مخی، که په تدریجی ډول وی او یا هم انقلابی توګه ځکه به ځای خالی کوی چی د انسانیت ماهیت او جوړښت ټولنیز او د تاریخ د مهمو غوښتونو څخه یوه عینی او عمده غوښتنه ده.

کله چی سویټیزم د ټاکلیو شرایطو او استدلالونو په نتیجه کی په ډیری آرامی سره سقوط وموند او امپریالیستی قوتونو نوی تجاوزات، د ګران هیواد افغانستان په شمول په مختلفو پلمو، د یو لړ کم زورو هیوادونو د خرابولو او اولسونو په ماتولو پیل وکړ، د ګلوبالیزیشن تر عنوان لاندی یی د جهان د تسخیرولو اشتها نوره هم ژوره شوه. نه یې د خلکو او ملتونه حقوق په نظر کی ونیول، نه یی حتا د خپل امپریالیستی هیوادونو په د ننه کی د بازارونو د ویش تفاهم ومانه او نه یې هم دهغو تضادونو شدت په فکر کی ور وست کومو چی نړیواله بشری ټولنه د تیری پیړۍ په دوران کی لړ تر لړه دوه وار داسی سخت او وحشی اورته واچوله چی د بشریت د زرګونو کلونو ښایسته او ارزښمن مدنیتونه یې یا ور وسوځل او یا یې سخت دود بوبه کړل او په ملیونونو انسانان یې د خاورو سره برابر کړل.

نن چی ناټویی تجاوزګرو دولتونو، په سر کی یې امریکایی انحصارګرانو زموږ پر تاریخی هیواد افغانستان په ناوړو او مختلفو پلمو ور ودانګل او دخپلو ناروا حملو په دوران کی یی افغان مظلوم – خوقهرمان- اولس چی په تیرو دیرشو کلونو کی یی هم زیات مالی او بشری تلفات او تاوانونه لیدلی دی، د ډیرو نورو خواریو او تکلیفونو سره مخامخ کړ، نو دا دی یو لړ روشنفکران چی پخوا یی هم د تاریخ پر سیر او تکامل عقیده نه درلوده، اوس یی د متجاوزو قدرتونو تیریو په نتیجه کی عقیده یی او فکری تزلزل نور هم زیات شوی او دا چورت ور ولاړ شوی دی چی ګواکی جهان خپل پای ته ورسید او هرڅه به د بوش- بلیر په اولسی او انسانی ضد تجاوزونو چلیږی او بشپړ کیږی. په همدې ډول، عمومی اپورتونیزم ته که د فرد په وجود کی ځای ولری او یا هم د ګروپونو په تشکیل کی څرګند وی، دا خبره ور په زړه شوی او په زړه کیږی چی ګواکی دا دی تاریخ پرشا ځی او اولسی نظامونه یو په بل پسی سقوط کوی. په داسی حال کی چی د اولسونو موقتی ماتی او شکستونه، خرابی او ناتوانی په هیڅ صورت د تاریخ پرشا تګ معنا نه ورکوی، بل که بیا هم سره د دغه ټولو پیښو تاریخ پر مخ ځی او پرشا نه ګرځی.

همداسی، هیره نکړو چی د تاریخ په اوږدو کی بیل بیل سیاسی نهضتونه او نظامونه د خپلو ټاکلو شرایطو په لرولو سره، د خپلو فعالیتونو په دوران کی کله کښته لویدلی او بیا راپورته شوی، خو کله غوځار شوی او بیا هم را ولاړ شوی دی. هم دغه جریان د تاریخ د ډیرو خصوصیتونو څخه یو ډیر څرګند خصوصیت دی.

<u>په منطقی ټولنیز اصالت سره رهنمایی شوی تیوریګانی او نظامونه په هر شکل او هر ایزم ISM چی وی د بشری تکامل په سرکی ولاړ دی، که نن وی او یا هم سبا د خپلو بشپړتوبونو مرحلو ته رسیږی او نوی داسی تحولات رامینځ ته کوی چی نور به یې هم په څرګنده وښیی چی نه تاریخ پرشا ځی او نه هم زمانه پای ته رسیدلی ده.</u>

په تاریخ کی د یونانی امپراتوریٔ څخه بیا د روم تر وحشیانه امپراتوریٔ پوری او بیا هم په راورسته کی وحشی مستبد دولتونه او نظامونه، چی ځینی یې د تاریخ غوښتنه وه، نه یوازی را پیداشوی او بیا ستر شوی دی، بل که د زوال زوړی یې هم په خپل د ننه کی داسی کرل شوی دی چی ثمر ته رسیدلی او رسیږی.

ښایی د عراق قهرمان ملت غوندی نور ملتونه به هم د جهانی تجاوزګرانو تر پښو لاندی شی، خو په هیڅ صورت د بشر منافع او د تاریخ منطق نه شی منعکسولای. په ټینګار سره دا ویلای شو چی نوموړی تجاوزات او تیري د تاریخ د پرشاتګ مفهوم نه ورکوی، بل که برعکس موږ بیا هم د اوسنی نویو وحشتونو څخه ډک جهان او پیښو په درشل کی ولاړ یو. ددي له پاره چی د تاریخ مفهوم او حرکت

يي څه نا څه روښانه شوی وی، لازمه ده چی د همدغه علم پر فلسفی او منطق باندی یو لنډ مکث وکړو:

## ۱ـ تاریخ د یوې ستری پوهنی په څیر هم منطق لری او هم فلسفه، نو څنګه؟

د تاریخ History کلمه چی د لرغونی یونانۍ کلمې Historica څخه راوتلی د اطلاعاتو او څیړنو مفهوم ورکوی، خو په اصطلاح کی ټول هغه لیکنی، آثار، سندونه، رسمونه، علامې او نښانې او داسی نور په غیږ کی نیسی چی د طبیعت او انسانی پراتیک په باب ثبت او لیکل شوی وی، البته، دلته موږ د بشری ټولنی د تاریخ او فعالیتونو څخه بحث کوو.

د تاریخ فلسفه دا توضیح کوی چی د تاریخی څیړنو او تحقیقاتو مفهوم یوازی د هغو ساده پیښو او پدیدو د څیړونو څخه نه دی چی په سرسری او ګذری توګه مینځ ته راغلی او یا هم مینځ ته راځی، بل که د هغو ټول اړخیزو پیښو، ارقامو او انسانی پراتیکونو مجموعه ده چی عینی Objective او مسلط Dominated قوانین یی د انسانانو د ذهنه څخه د باندی موقعیت لری. شک نشته چی د همدغو قوانینو او واقعیتونو د ژور درک له مخی تاریخ پوهان کولای شی چی نه یوازی د تحوله ډکی ټولنیزی تاریخی پیښی توضیح کړی، بل که د ټاکلیو شرایطو په رڼا کی د یو لړ راتلونکو پیښو اټکل Prediction هم وکړای شی.

تاریخ او د تاریخ منطق د دوو مهمو فلسفی مقولو په څیر د تکامل او د افکارو د علمي پرمختګ او د شیانو د واقعی تاریخ ترمنځ ارتباط ښیی. تاریخ د خپل ټاکلی منطق په واسطه د بیلو بیلو واقعاتو د تحرک او پیداکیدو هغه بیان دی چی په ټاکلو زمانو او مرحلو کی رامنځ ته شوی او رامنځ ته کیږی.

د تاریخ فلسفه د معرفت Knowledge هغه څرګند پرنسیپونه او قوانین دی چی د پیښو او پدیدو Phenomena د پیداینت او تکامل په دوران کی د ټاکلو شرایطو په لرلو سره د هغوی تسلط څرګند کړی. په همدغه ډول، د تاریخ منطق د ټولنیزو جریانونو او پیښو تر مینځ ذاتی اړیکی، د هغو د پرمختګ او د دوی په مینځ کی بیل بیل تضادونه ښیی. باید وویل شی چی د تاریخ منطق کله کله هغه پیښی هم توضیح کوی چی د تاریخ په اوږده تکامل کی موقعیت ونه لری؛ د هغو زورمندانو او استعمارګرانو مخی ته د شرمه ډکی پیښی ایږدی د کومه چی د وحشت او ستبداد چلند، د خپل ژوند د ساتلو لپاره یوازنۍ لاره او آرمان دی. ځکه چی د تاریخ فلسفه د ټولنیزو پیښو او پدیدو د ظهور، او بیایی د زوال پرنسیپونه وړاندی کوی نو د هر اجتماعی- اقتصادی سیستم د موجودیت په دوران کی نه یوازی پر خپل تندی د بشپړتوب مهر لری بل که د زوال نښی نښانی یي هم د زمان په تیریدو سره په څیره کی څرګندیږی. البته، د تاریخ منطق (په ډیرو ځایونو کی د تاریخ د فلسفی سره توپیر لری.) دا خبره هم په داګه کوی چی کله کله د تکامل په مسیر کی پراته حوادث او نظامونه د یو لړ ناروا او ظالمو واکدارانو د ظلمونو او وحشی پلانونو په واسطه ناکامه او د تکامل د اصلی لاری څخه خطا کیږی او پر بیراهه درومی. خو بی شکه چی تاریخ د خپل منطق په تحلیل او قضاوت سره نومړی پیښی په زغرده موقتی او لنډ وخت لپاره ګڼی. دمثال په توګه، د بوش- بلیر غیرانسانی تجاوزات چی د محرومو او غریبو ملتونو او اولسونو پرضد اوج ته رسیږی په واقعی توګه د تاریخ خلاف او د تاریخ منطق یی په کلکه سره ردوی. دغه ډول استعماری او ناروا تجاوزات د نن ورځی ټولنپوهنه او واقعی تاریخ لیکنه چی د خپل روښانه منطق په واسطه سمسور او سنګار شوی وی، نه منی او د ابدی بطلان خط پر کشوی.

د لوړی خبری د اثبات له لپاره وینو چی د بلیر پرضد مبارزو نه یوازی د نړی بیلو بیلو اولسونو، زحمتکښانو او ملتونو په سوله ایزه توګه د جهانیانو یو څرګند انعکاس وښود، بل که یو لړ ګوندی، پارلمانی او د کابینی غړیو یی هم د ملګرو جنایتونه د عراق پر قهرمان ملت باندی وغندل، بل که د فرانسی او جرمنی غوندی اروپایی هیوادونو هم په زغرده، د خپلو ګټو د ساتلو په خاطر خپل

اعتراضونه، مقاومتونه دریغ نه کړل او د دی قهرمان ملت په اشغالولو کی یی نه لښکری ورکړی او نه یی هم مالی مرستی.

په همدغه خنده آوره توګه، دبلیو بوش د ټولو هغو پوښتنو په مقابل کی حیران او بی ځوابه پاتی دی، کوم چی د عراق او صدام حسین ارتباط د کیمیایی او بیالوژیکی وسلو سره نه شی ښودلای او غښتلی عراقی ملت لا اوس هم د خپلی خاوری او تیلو د زیرمو د ساتلو په خاطر تر غیرِانسانی او وحشیانه بمباریی لاندی خپل د قهرمانی څخه ډک مقاومتونه کوی. ځکه چی د بوش اداره د هیڅ ډول پوښتنی ځواب نه لری نو هڅه کوی چی د همدغو مسألو د هیرولو او آینده تیرویو د زمینی برابرولو لپاره د ایران بحران ته لمن ووهی؛ د شمالی کوریا په داخلی چارو کی مداخله وکړی او په همدغه ډول، نوری هغه پیښی راپورته کړی چی په څرګنده يي د وینو بوی ځی. دلته مو نوموړو پیښو ته ځکه اشاره وکړه چی د بوش- بلیر وحشتونه او تیری که څه هم د تاریخ ثبت شوی پیښی شوی خو د تاریخ منطق یی نه یوازی غیرِمنطقی او غیرِعادلانه بولی، بل که ټول اړخیزی ماتی يي د سبا په سپیدو داغ کی په روښنايي سره لیدلای شي.

تاریخ په خپل د ننه کی داسی پراخ، منظم او مستدل منطق لری چی په واسطه سره یی د تکامل هره پروسه او هره پاڼه خپل هغه لوری او ضرورت روښانه کوی کوم چی یوي څرګندی نتیجی ته رهنمایی کیږی. که څه هم "ښایی" د یوی پروسی په پیل کی د شیانو او پدیدو متکامل جوړښت د تاریخ منطق ته ناڅرګند وبریښی، خو د بیلو بیلو مرحلو په اوښتلو او تیریدلو کی يي د تکامل د مختلفو برخو د ارتباطونو (منطقی ارتباطونه) د تطابق په لاره کی څنګه چی ضروری وی خپل نتایج پرمخ وړی. په همدی ډول، د تاریخ او منطق یوالی د تاریخ د بشپړ تکامل او خاص جوړښت د مختلفو اړخونو د ارتباطونو او دخپلو داخلی فعالیتونو په یوه خاص انعکاس سره څرګندیږی.

تاریخ او منطق چی د شیانو او واقعیتونو د پرمختګ او پیښو ترمینځ د ارتباط پیداکولو په خاطر پوره اهمیت لری په خپل اساس کی سره یوځای او سره تړلی دی. د تاریخ ټولو تصادفی او ګذری ډول ډول پیچومو څخه ډکی پیښی په یوه واقعي او عمومي جریان کی لزوماً هغه وخت زایلیږی، کله چی نوموړی جریان خپل بشپړ بلوغ او انکشاف ته ورسیږی. روښانه ده چی منطق یو داسی تصحیح شوی تاریخ دی چی همدغه تاریخ بیا په خپل وار سره په هغو قوانینو تدوین کیږی کوم چی واقعی تاریخی پروسه رامینځ ته کوی. دلته، وینو چی د تاریخی او منطقی هغو لارو توپیر چی په واقعیت کی وجود لری، په تفکر کی انعکاس مومی. د دي خبری علت هم دادی چی خپله واقعیت کی د تکامل جریان او نتایج يي که سره یوځای هم وی، خو کله کله یو پر بل منطبق نه وی. هم دغه دلیل دی چی د منطق او تاریخ د څیړنو او تحقیقاتو میتودونه هم په خپل اساس کی بیلوالی لری.

د تاریخ د مطالعی هدف، اساساً دادی چی د پدیدو د تکامل او شکلونو د اختلاف هغه کانکریت شرایط وڅیړی کوم چی د یوی پیښی تکامل د یوی مرحلی څخه د تکامل بلی مرحلی ته وړی؛ د بشپړ تکامل منطقی ماهیت د واقعی تاریخ د توضیح کولو په خاطر یوه مهمه کلی وبولی. د تاریخ ژوره څیړنه د تاریخ د فلسفی د اصولو د پیژندی سره چی د علومو په لړکی یوه ټاکلی پوهنه او معرفت دی، ذاتی اړیکی لری. همدغه د تاریخ فلسفه بیا د خپل موجود کیدلو او تکامل د جریان د هغو شرایطو په ارتباطونو کی د شیانو او پدیدو د پیژندنی هغه اصول دی چی ټولی پیښی او جریانونه په سپړل کیږی؛ د هغوی پیدایښت، بیایی تکامل او همداسی یی زوال په توضیح کیدای شی. دلته د دي خبری یاد په کار دی چی د تاریخ فلسفه د تیوریکی څیړني د یوه ټاکلی میتود او پوهنی په څیر د هری سرسری او غیرِمهمی پیښی د پیژندنی ضروری اساس نه دی، بل که د هغو ټولو ژورو پیښو د لاربښودونو بنیاد جوړوی چی د شیانو او عینیتونو د ټاکلیو خصوصیاتو او ارتباطونو شکل او محتوا منعکس کړی. البته، د همدغو پیښو او عینیتونو مشخصات د خپل ذاتی تحولاتو او تضادونو په عالمانه تشخیص سره روښانه کیدای شی. نوموړی تحولات او تضادونه که طبیعی وی او یا اجتماعی په خپل حرکتونه او تغییرات داسی پرمخ وړیچی په هیڅ صورت خپل پخوانی پوره شکل او حالت له ځانه سره نه شی ساتلای. نو همدغه حقیقت له مخی د تاریخ فلسفه د حوادثو او پیښو د راتګ او ظهور په باب په زغره وایی:

که څه هم په تاریخ کی کله کله، ځینی پیښی په بل شکل راڅرګندیږی، خو تاریخ پرمُخ ځی پرشا نه ګرځی.

## ۲- تاریخ کله کله تکرار بریښی، خو په بل شکل،

مخکی له دی چی د تاریخ پر تکرار مکث وکړو لازمه ده لومړی د هغه پر حرکت او بیایی پر شکل او ډول باندی څه نا څه ووایو:

تاریخ د یوه کُل په څیر که د ټولنیزو پیښو وی او یا هم د طبیعی پیښو، ځان ته ټاکلی سیر او حرکت لری، چی دا حرکت په عمومی توګه د کښته څخه پورته او د ساده څخه پیچلی او مُغلق ته لوړیږی او تیریږی. د تاریخ د فلسفی له مُخی دا پوره څرګنده ده چی د ټولنیزو او طبیعی حوادثو د لومړنیو وختونو بیا تر اوسه همیشه ډول ډول تغییرات راغلی او نوی شکلونه یی غوره کړی او نوی حالتونه به واخلی. دا هم ځکه چی د تغییر قانون د ټل لپاره د اجسامو، حوادثو او تحولاتو د پیدایښت، تکامل او بیایی د زوال اساس ټاکی او د طبیعت د ډیرو عمده قوانینو څخه دی. ګواکی د "تغییر قانون" تغییر نه کوی.

د طبیعت او ټولنی د حرکت او سکون په باب د لرغونو زمانو څخه را په دی خوا ډیر بحثونه او زیاتی نظریي وړاندی شوی دی، د لرغونی یونان ستر فیلسوف ارسطو لومړنی مشهور فیلسوف دی چي د خپلو نورو فلسفی او منطقي موضوعاتو ترڅنګ یي د حرکت پر شکل بحث کړی او دایی ویلی دی چی د کایناتو حرکت دایره یی شکل لری.

دې عقیده لری، چی دایره یی شکل د حرکت متکامل شکل دی. د ارسطو همدغه فلسفی نظر دده د نورو فلسفی موضوعاتو سره یو ځای په پیړیو پیړیو د اولسونو ذهنیتونه تسخیر کړی وو. نو همدغه علت له مُخی که به په خاصه توګه په مینځنیو پیړیو کی اسکولاستیکی Scholasticism (کلیسایی- ارسطویی مدرسه) تعلیمات د کوم چا له خوا یا وغندل شول او یا به کوم چا انتقاد پر وکړ، بیا به نوموړی شخص او یا ډله، متمرده او یا کافر په نامه د جزا وړ وبلله شول. باید ووایو چی دغه اروپایی فرهنګی استبداد د رنسانس تر سپیدو داغ پوری خپل زور او توانمندی درلوده.

اسلام بیا په دغه وخت کی د خپل پرمختګ په مرحله کی و، خو البته، د ابن سینا غوندی نړیوال فیلسوفانو یی خپلی فلسفی او علمی ځیرنی کولی او د خپلو سترو علمی او فلسفی مدرسو دروازی یی په هسپانیی غوندی هیوادونو کی لا هم پرانیستی وی. په هر صورت، د حرکت ارسطویي نظریه په راوروسته زمانو کی د ایتالیایی دانشمند ویکو (Vico 1668- 1744) له خوا داسی پرمُخ ولاړه چی: «ټولنه په بي پایه توګه په تکرار شوو مرحلو کی تکرار کیږی»؛ خو د انګلیسی فرانس بیکن (Francis Bacan 1561- 1626) په شان پوهانو او فیلسوفانو بیا د ارسطو نوموړی فلسفی نظر (حرکت دایره یی شکل لری) د یو لړ نورو علمی او منطقی موضوعاتو سره یو ځای انتقاد کړل او "د حرکت سیریی مستقیم" وباله.

لکه علوم چی وده کوی نو یې د مختلفو مقولو او مفاهیم تعریفونه هم قدم په قدم علمی کیږی؛ انکشاف مومی او نوی واقعیتونه منعکسوی.

په نولسمی پیړئ کی چی د یوي خوا د فلسفی ماهیت نوی بُعدونه وموندل او نوی اصول یي رامینځ ته شول، خو د بلی خوا د علومو د انکشافاتو او اختراعاتو په نتیجه کی تازه ترین علمی پرنسیبونه او قوانین هم رامینځ ته شول. دلته نو دحرکت د تعریف پر ماهیت هم نوی رڼا ولویده او د آلمان مشهور

فیلسوف، مبارز او لاربنود ف. انګلس (Fredrick Engels 1820- 1895) توضیح کړه: «چې حرکت د تغییر په معنا، که ټولنیز دی یا طبیعي د فنر په شکل داسی مارپیچی حرکت لری، چی هره ورستې کړۍ يې د پرمُختګ مظاهر ځرګندوی. دلته اضافه کیږی چی هر حرکت په خپل د ننه کی د متضادو قطبونو د مبارزو په نتیجه کی ظهور کوی او موجودیت مومی.

حرکت چی د مادی د موجودیت یو شکل دی د تاریخی تکامل مختلفی پیښی د خپلو بیلو بیلو فنری کړیو په شکل کی توضیح او ترسیموی. البته د تاریخ د واقعی مفهوم له مُخی ځرګنده ده چی د فنر په شان حرکت هره وروستۍ کړۍ نسبت پخوانیو کړیو ته متشکله، معتبره، غنی او ستره ده. په ډیره ساده او آسانه توګه لیدای شو چی زموږ هره بشری پیړۍ تر هري پخوانی پیړۍ مستدله، معتبره، غنی او ستره ده.

ځکه نو، وایو چی ټولنه نه یوازی حرکت لری بل که د خپلو ذاتي طبقاتي او نورو اصولو پر بنا د پرمُختګ بیلو بیلو مرحلو ته لا هم پرمُخ ځی.

د دی خبری یاد هم په کار دی چی د انسانانو هر حرکت د تکامل او پرمُختګ پر لویه لاره نه دی واقع. حتی ډیر ځله انسانان او د قدرت خاوندان د انسانیت پر ضد شعوری او یا غیرِشعوری هڅی کوی څو د خپلو طبقاتي او یا شخصی ګټو د تأمین په خاطر داسی اعمال انجام کړی چی د بشری پرمُختګ او عمومی انسانیت پر پاکه لمن توری لکي ور وغورځوی. البته دغه ډول غیرِانسانی اعمال کله موقتاً بریالی وی، خو کله کله یی د ناکامی سیر خورا ژر د تاریخ کندی ته ور وسپاری.

باید زیاته شی چی په عمومی توګه د انسانانو او اولسونو د قاطع اکثریت ګټی په هغو سیستمونو کی تبلور مومی کوم چی په خپله د زحمتکش انسان د لاس د تناکو د هغوی د مغزونو په تیزو امواجو او مبارزو د معقول انتظام په نتیجه کی را مینځ ته شوی وی. خو شک نشته چی د قدرت، استعمار او استثمار څښتنان چی د تولید وسایل یی یا په خپله غصب کړی او یا یی نیکونو او پلارونو غصب کړی وی په هره لحظه او هر ګړی کی د خپلو ګټو د ساتلو په خاطر د هر ډول تاکتیکونو او جنایتونو څخه استفاده کوی او د خواریکښ انسان د لاس او دماغ ګټه په بیلو بیلو لارو مفته خوری، همدغه د خواریکښانو او استثمارګرانو تر مینځ نه پخلاکیدونکی مبارزه د بشریت د هغه تاریخ د ملا تیر ور جوړوی کوم چی زموږ دغه لیکنه پر ورګرځی.

**د دي له پاره چی د تاریخ حرکت او بیایی په بل شکل تکراری اوښتنه په استدلال کی نوره هم روښانه شی لازمه ده ځیرنه د طبیعی سماوی اجسامو څخه په ساده ګۍ سره راپیل کړو:**

هو، د تاریخ پیښی کله کله تکرار بریښی، خو په بل شکل. د یوه ګړی له پاره د لمر د موجودیت، سکون او حرکت په باب یی فکر کوو چی لمر د ملیونونو کلونو را په دی خوا په ډیر تمکین او نسبی سکون کی د یو لړ سیارو په مینځ کی داسی ولاړ دي چی پرشا او خوایي عطارد،زهره، ځمکه مریخ او داسی نوری سیاری بیله کومه ځنډه پر ورګرځی. ټولی نهه ګانه سیاری پر خپل محور خپل وضعی حرکت داسی پای ته رسوی چی شپه او ورځ هم ځینی پیدا کیږی. دلته دا هم روښانه ده چی د ټولو نوموړو سیارو، د ځمکی په شمول د هر وار حرکت که يي پر ځان دی او یایی هم د لمر پرشا او خوا، هغه حرکت نه دی چی پرون یی درلود؛ او هم داسی يي د راتلونکی د هغی سره هم تفاوت موجود دی.

داچی زموږ خاورینی ځمکی په پخوانیو زمانو کی دغه اوسنی زرغون، سمسور او آباد شکل نه درلود، ډیر خاورین او د اوره څخه ډک حالت یی لاره، انکار نه شو کولای. خو ننۍ ځمکه چی د ثروتونو څخه ډکه، په زراعتونو معموره، په ساینس او تکنالوژی او انسانانو او حیوانانو مالامال ده، پرون یی د نوموړو خصوصیاتو څخه هیڅ نه درلودل، په داسی حال کی چی هم دغه ځمکه چی د لمر څخه دریمه هغه لیری کره ده چی د ملیونونو کلونو را په دی خوا د لمر پرشا او خوا لالهانه او سرګردانه ګرځی را

گرځي، د حرکت نوی شکل په بل ډول لري او د هر وار حرکت يی له پخوا څخه توپير کوی. هم دغه حرکت که څه هم توپير لری خو داسی ښکاری لکه د تير حرکت تکرار!

دا چی د تاريخ په بل شکل سره تکرار بريښی د طبيعت په بيلو بيلو برخو کی يي که سماوی دی يا ځمکنی پوره د تأييد او څيړنی وړ دی. دا روښانه ده چی هر څه تغيير او حرکت کوی، پر مُخ ځی او حتی ځينی وخت تکرار بريښی، خو په بل شکل. دا هم ځکه چی د هر شی او پيښی حرکت د خپل پخوانی حرکت څخه توپير لری او په عمومی توگه تر پخوانی حالت غنی او د نوی استعدادونو خاوند دی.

البته، کله کله کيږی چی د حرکت او تاريخ نوی حالتونه تر پخوا ارتجاعی او خرابونکی هم وی، <u>خو شک نشته چی دغه حالت په اجتماعی پيښو، پديدو او حرکتونو کی په مختلفو شکلونو کی ليدل کيدای شی، خو په هيڅ صورت د جهان پای نه دی، بل که برعکس ښايي د واقعاتو سر يا مينځ وگڼل شی.</u>

مخکی مو په طبيعی پيښو کی نه يوازی پر دی بحث وکړ چی تاريخ پرمُخ ځی او پرشا نه گرځی، دی خبری ته مو هم اشاره وکړ، چی يو لړ حوادث، کله کله تکرار بريښی- اوس به په لنډه توگه د ټولنيزو پيښو د پرمُختگ او هم داسی به د هغو واقعو ياد وکړ چی تر ټاکليو شرايط لاندی کله کله تکرار بريښی.

شک نشته چی ټول بشری او تاريخی پراتيک بي له کومی آفاقی ارادي د خپلو ذاتی اصولو پر بنا حرکت، تغيير او تکامل کوی. البته ځينی وختونه په بل شکل کی تکرار وايی. د دی خبری مثالونه د خپل ژوند په هره برخه کی په ډيری آسانی سره موندلای شو. د مثال په توگه، په گران هيواد افغانستان کی د ۱۳۸۱هه- ش. کال د عقرب د مياشتی د پوهنتون د محصلانو خونينه پيښه او د ۱۳۴۴هه- ش کال د عقرب په مياشت کی د کابل پوهنتون د محصلانو د وينو ډکه مظاهره چی يو له بله ډيره ورته والی سره لری، په هيڅ صورت دوهمه د لومړی پيښی تکرار نه دی، بل که په نوی شکل کی تکرار بريښی.

هيواد ۴۰ کاله مخکی نسبت نن ورځی ته آزاد، آرام، اباد او د سولی مرکز و، د عقرب مياشتی دريمه د هيواد د سياسی فعاليتونو په د ننه کی يوه ډيره مهمه ورځ او پيښه وه، په هم دغه مياشت او کله کله به په نورو گاونډيو مياشتو کی اعتصابونه، مظاهري او نور بيل بيل سياسی فعاليتونه چی هم به يی طبقاتی او هم به يی ملی او صنفی خصلت درلود، اوج ته رسيدل. خو په عمومی ډول سره مظاهری د خپل انضباط او دسپلين درلودونکی وی، د مظاهرو لوری، هدف او نور خصوصيات مستقلانه او هيواد دوستانه وو.

سره له دی چی نوی اساسی قانون اعلان شوی و، خو د مظاهرو، اعتصابونو او نورو دموکراتيکو فعاليتونو قانون لانه و خپور شوی، اما بيا به هم مظاهره چيانو مظاهری او اعتصابونه کول. حتی کله کله به يی په اولسی جرگه کی د محصلانو او مينه والو حضور غوښت، چی دلته په غربی شوراگانو کی چندانی دا غوښتنه نه ښکاری. په هم دغه ۱۳۴۴ کال لازمه وه چی صدراعظم داکتر يوسف د خپل مرام د توضيح کولو په خاطر په اولسی جرگه کی حضور ومومی. په هم دغو ورځو او وختونو کی د کابل پوهنتون محصلانو، روشنفکرانو او د ځينو سياسی گوندونو نماينده گانو په نوموړی جنبش کی پوره برخه درلودله. د عقرب په دريمه ورځ چی د پوهنتون او يو لړ ليسو او مدارسو شاگردانو مظاهره راويستله، وروسته يي له څه وخته مظاهری د دارلامان پر سرک چيری چی د صدراعظم د ليدو امکانات وو حرکت وکړ او بيا يی آرزو وه چی په پارلمان ورننوزی، اما اجازه ورنه کوله شوه. نو لښکريانو د مظاهری د مخنيوی په خاطر مداخله وکړه خو د مظاهره چيانو او دولتی لښکرو تر مينځ برخورد وشو؛ مظاهره په وينو رنگ شوه، د مرگ او ژوبلی آوازې يي ډيرو ځايونو او محلونو ته رسيدې.

ښايي په نوموړو پيښو کی به لاسون وو، خو اوس چی د کابل ښاريانو په مظاهرې کی د مرگ او ژوبلی واوريده په ډير غم او تأثر سره يي حکومتی واکدارانو ته نفرت ور واستاوه. دغه په وينو سره شوی ورځ د ۱۳۴۴ کال د عقرب دريمه وه چی په وروسته کی يی زيات شهرت وموند؛ نه يوازی يی د

هیواد په مختلفو سیمو کې آزانګه خپره شوه بل که غربی او شرقی منابعو هم نوموړی پیښه په مختلفو شکلونو سره تبلیغ او خپره کړه. په هم دی توګه نوموړی د عقرب دریمه، دومره مشهوره او د اهمیت څخه ډکه شوه چې هر کال به د عقرب دریمی د شهیدانو په نامه لمانځله کیدله، نه به پولیسانو جدی مقاومت کولای شوای او نه به د دی تاریخی ورځی اهمیت چا هیره ولای شوای. هم دغه ورځ زموږ په سیاسی جنبش کی د تحرک څخه ډکه یوه داسی سیاسی ورځ وګرځیده چې هر کال به په مظاهرو سره پیل کیدله او په قطعنامو سره به پای ته رسیده. باید ووایو چې په لومړنیو کلونو کی دولتی قوا وو په ډول ډولونو هڅه کوله چې د دغی تاریخی ورځی د مظاهرو او مارشونو مُخ ونیسی، خو د سیاسی جنبش د مقاومت په نتیجه کی نوموړی تاریخی او سیاسی ورځ د هیواد د سیاسی غورځنګ یوه ډیره ستره ورځ وګڼله شوه او د دولت د عقب نشینی په نتیجه کی د داوُدخان تر کودتا پوری هرکال لمانځله کیدله.

زمانه تیره شوه، کلونه وابښتل او شلمی پیړیَ یوشتمی ته ګام ورپورته کړ. په هم دغه پخوانی پوهنتون کی بیا محصلان د خپلو عادی ورځنیو او کله کله هم د صنفی غوښتنو لپاره مبارزی کوی؛ دولت په ډیره محافظه کاریَ سره د امریکایی قوتونو په واسطه داسی ځان ټینګ کړی چې په خپل مقابل کی هر ډول سازنده انتقاد او قضاوت لاهم دښمنی او خصومت بولی. اوس نو د کابل ښار هم د تیرو دیرشو کلونو د جګړو په نتیجه کی پوره خرابه او د چپاولونو په واسطه داسی سپیره شوی دی چې حتی زموږ د ډیرو لرغونو او با ارزښته اموالو ډک موزیمونه هم د بشپړی نیستیَ او ویرانیَ سره مخامخ شوی دی؛ د بودا مشهوره مجسمه هم د بامیان په زړه کی ټوکر ټوکر پرته ده. د افغانی ټولنی چې اوس یي د اوږدو وحشتونو یوه مرحله تیره شوی، دا دی په بله مرحله کی یی ګام ایښی دی. کلي او باندی ویرانی شوی او فرهنګونه د خاورو سره برابر شوی دی. سیاسی جنبش په یوه تاریک اختناق اوښتی، امریکایی او ناتویی قوتونه تلاش لری چې تر خپلو ټانکونو لاندی دموکراسی رواج کړی، ځکه یی نو په مقابل کی هغه ډول مقاومتونه ایجاد او پرمختګ مومی لکه د روسانو په مقابل کی چې یی اوج نیولی وو. په هره اندازه چې دغه بیګانه قوتونه خپل زور زیاتی ډیروی په هغه اندازه د خلکو د مختلفو قومونو، ګروپونو، ملیتونو له خوایی نفرت او کرکه نوره هم ورځ په ورځ زیاتیږی. د بیګانه ګانو زور او تسلط دومره زیاته کرکه پیدا کړده چې حتی په هغو قوتونو کی یي هم تأثیر زیات شوی دی کوم چې د هم دغو بیګانه ګانو په واسطه راغلی او د قدرت خاوندان شوی دی. په زړه پوری ده چې د طالبانو په نامه افغانان د ګوانتانامو په تاپووزمه کی یي له محاکمی او بی له سرنوشت ټاکلیو د حیوانانو په شان پراته دی، خو د "والکر" په شان امریکایی او اروپایی طالبان، نه یوازی د قفسونو څخه راوزی بل که محاکمی ته یی بیایی او هغه ډول جزاګانی ورته ټاکی لکه د دوی په خپلو هیوادونو کی چې رواج لری. اوس چې ناتویی لښکری د امریکایی نظامیانو په واسطه رهنمایی کیږی، زموږ آزادی غوښتونکی اولسونه د پخوا په شان د آزادی له پاره جنګیږی چې دا جنګی خصلت یی د نن ورځی خصلت او رسم نه دی، بل که د هغو نیکه ګانو څخه یي په میراث اخیستی دی کومو چې د انګریزانو او روسانو په مقابل کی سرونه پر لاس ایښی وو.

د ملیتونو او قومونو چې پخوا لا دښمنی ایجاد شوی او ایجاد کیدلی اوس هغه خصومت د هر پخوانی وخت څخه نور هم شدید او پراخ شوی دی.

«تقسیم یی کړه، بیایی اداره کړه» ډیره پخوانی انګلیسی استعماری پالیسی په خپل ټول توان سره په داسی ماهرانه توګه عملی کیږی چې ډیر وختونه اولسونه خو څه چې حتی روشنفکران یی لا هم یا نه پوهیږی او یا یی هم ځانونه بی خبره اچولی وی. دا ټولی خبری پر یوه خوا پریږدی چې د هیواد پاشلو او تجزیه کولو خبری اتری لا هم اوریدل کیږی.

د خپلو داخلی یو لړ بحثونو څخه چې راتیر شو، وینو چې په جهان کی ډیر داسی نوی تغییرات او تحولات راغلی چې د قوا وو توازن چې "ګډ سوله ایز ژوند" یی د سختو دښمنو قوتونو تر منځ د نړیَ والو توافقاتو په نتیجه کی تسلط درلود او د سولی د تأمین په خاطر یو مهم نړیوال اصل ګڼل کیدئ، اوس دادی په عمل کی له مینځه تللی او د ځمکی پرمُخ د زور او د "ځنګل قانون" داسی حکمروایی کوی

چې هره ورځ او هره ګړۍ د دي وهم او بيره موجود ده چې د زورورو او اتومي بمونو والا هيوادونو تر مينځ تباه کوونکي جګړې پيښې او دبشري زرګونو کلونو لرغوني مدنيتونه او اوسني تکنالوژيک انکشافات د مليونونو انسانانو سره يو ځای خاوري ايرې شي. په دې برخه کې حتی (کوفی عنان) د ملګرو ملتونو پخوانی سرمنشی هم د نړۍ موجوده حالت ډير خطرناکه وباله او په احتياط سره يې د ملګرو ملتونو په عمومي غونډه کې داسې وويل: «د دي وروستيو څو کلونو پيښو دا څرګنده کړه چې په نړۍ کې چې په مليونونو انسانانو وژل کيږي نه شي کيدای چې د سولې ځای دی شي، حتی د هغو افرادو ډله هم نه ده آرامه کومه چې د ممتازو شرايطو څښتنان دی. . . »

په هم دی لړ کې د فرانسې جمهور رييس شيراک هم داسې وايي: «د عراق پرضد جنګ د دی سبب شوی دی چې د ملل متحد سازمان د خپل تاريخ د بدترين بحران سره مخامخ شی.» شيراک داسې اضافه کوی چې: «عراقيانو ته بيرته خپل قدرت د عراق د ثبات او بيا جوړونی له پاره يو حياتی کار دی.» البته د دی خبری يادونه په کار ده چې وويل شی چې شيراک په عراق کی خپلی ګټی په خطر کی وليدی، ځکه يي د شديدترين بحران اخطار ورکړ. که نه، بايد پر يوګوسلاويا او افغانستان يی هم هم دغه پاليسی چې نن يي د عراق پر ملت روا بولی. لازمی بللی وايی، هغه وخت به د بوش اداری هم د نوموړو هيوادونو د خرابولو او تجاوزاتو څخه، ښايی پرهيز کړی وای او د امريکايي استعماری فعاليتونو کړی به يی پر هغه ځای ماته شوی وای.

اوس که د امريکايي امپرياليزم غواړی چې د نړۍ د تسخيرولو په خاطر د ناتو پکت ټول غړی په ځان پسی کش کړی لکه پر يوګوسلاويا او افغانستان چې يی مستقيماً تجاوز وکړ او هيچايي مخه ونه نيول، خو بيله شکه چې پر دی بل اړخ نوموړی پکت پر عراق باندی څرګند انشعاب وکړ او د فرانسی غوندی هيوادونو د امريکا لاره وانه خيستله.

ګورو چې ګران هيواد د ناتويي لښکرو تر پښو لاندی دی د خصمانه تبليغاتو او غولوونکی دموکراسی تر چتر لاندی د عيسويت او يهوديت په خاطر هم ناروا نخشی تر کار لاندی دی چې نه يوازی د اسلام د دين پرضد يی منفی تأثيرات څرګند دی، بل که د افغانی فرهنګ په مقابل کی يی هم پوره زهرپاشی روښانه ده. دا خبره بايد بياهم وښودل شی چې نن د بوش اداره غواړی چې په عامه توګه د جهان د تسخيرولو، خو په خاصه توګه د عراق غوندی ثروتمند هيوادونو د اشغالولو او لوټولو په خاطر د فرانسی، آلمان او روسی غوندی هيوادونه تر خپلی سياسی او نظامی رهبری لاندی له ځانه سره ودروی، خو نوموړی هيوادونه متابعت ځکه نه کوی چې د يوی خوا د دوی اقتصادی ګټی په خاطر لويدلی او لويږی، او پر دی بل اړخ د دوی سياسی حيثيت هم د خاورو سره ځکه وهل کيږی چې امريکايانو په ښکاره توګه «د ملتونو د سرنوشت د ټاکلو حق» تر پښو لاندی کړی دی. دا دی هم زموږ په ياد وی چې که د بوش اداره د ملګرو ملتونو د چارتر خلاف خپلو ناوړو اعمالو ته نوره هم ادامه ورکړی، نو بيله شکه چې د ناتو اتحاديه به چې نن ورځ يی وظيفه بايد ختمه شوی وی په دوو او يا ډيرو برخو تجزيه او منحل شی.

موږ وليدل چې د بوش- بلير بی اساسه او غيرِاصولی اتحاديه نه يوازی د عراق غښتلی اولس په ټول توان سره رد کړی او پرضد يی په قهرمانی سره جنګيږی بل که د جهان ډيرو ملتونو او اولسونو هم نوموړی تجاوزګرانه عمل د مظاهرو او مارشونو په شمول په ډيرو وسيلو او ډولونو سره رد کړی او پرضد يی په کلکه سره مبارزه کوی. پر عراق باندی تجاوزاتو نه يوازی عراق ته اقتصادی او اجتماعی تاوانونه ورسول او د مادی جوړښت تادابونه يی ونړول، بل که د پخوانيو مدنيتونو او لرغونو فرهنګونو خرابی او تباهی يی هم د جهان د ټولو فرهنګيانو په حضور کی يوه ډيره غيرِانسانی او د شرمه ډکه داسی پيښه شوه چې نړيوالو مشهورو لرغونپيژندوونکو هم نوموړی پيښه، د بوش- بلير او د دوی د متحدانو له خوا يوه څرګنده تاريخی فاجعه وبلله.

هم دغه تجاوز چې تاريخی فاجعه يی هم يوه برخه وبلل شوه د تاريخ منطق يی په ډير شدت ردوی او داسی چې د دی ټولو خرابيو او ورانکاريو جبران به هغه څوک په مختلفو شکلونو کی انجاموی کومو چې يی پيل کړی دی.

په تیر بحث کی مور وویل چی د تاریخ منطق، کله کله، د تاریخ سره په تضاد کی راځی. هم دغه ځای دی چی د تاریخ منطق د خپلو اسنادو او استدلالونو پر بنسټ د بوش- بلیر د تجاوزگرانه عمل پرضد قضاوت کوی کوم چی نن ورځ د ځینو عراقی- امریکایی متحدانو د تاریخ یوه ټاکلی ثبت شوي توره پاڼه ده. په لنډه توگه، پر عراق، یوگوسلاویا او افغانستان باندی تجاوزات، د بمونو د چاودلو په شمول هغه پیښی دی چی د نړی امنیت یی تر هر پخوانی وخت زیات په خطر کی اچول دی او لا به نور هم په خطر کی ولویږی.

دا وو د نړی د ځیری یوه برخه او هغه وه د هیواد د دننه ناآرامه او خطرناکه ډکه ورځ چی په مجموع کی د ۱۳۴۴ کال د داخلی او باندنی هغو شرایطو سره توپیر لری په کومو کی چی د عقرب خونینه ورځ واقع شوه، البته بیا هم دغه د عقرب میاشت وه چی د کابل پوهنتون محصلانو د خپلو غوښتنو پر اساس په کال ۱۳۸۱ کی مظاهره وکړه ځو یو لږ محصلان یی شهیدان او زخمیان پر ځای پری ښودل. د روژی مبارکه میاشت وه چی د پوهنتون محصلان د ماښام د روژه مات لازم او ضروری انتظام نه لری او د اداری د بی غوری ځخه یی د روژه مات خواړه نه تیار کړی او پر دی بل پلو د دموکراسی تبلیغ او باتی هم خورا ډیری وی، نو محصلانو هم په خپله قانونی او صنفی غوښتنه په زغره وړاندی کړه. خو د پوهنتون واکدارانو ونه منله. ځو چی محصلانو آواز پورته کړ، مظاهره به کوی او واکدارانو ته به خپل هغه ږغ ور رسوی کوم چی صنفی نوری غوښتنی هم په کښی منعکس شوی وی. دوی چی دخپلی ساحی ځخه لا حرکت نه ورکړی ځو چی د توپکوالاوو سره مخامخ شول او په هم هغه ځای کی په وینو رنگ شول. دلته مهمه دا ده چی د ۱۳۴۴ کال د جنبش وارثانو د خپلو شهیدانو په یاد هرکال مظاهری وکړی، خو د ۱۳۸۱ کال مظاهره ځکه پر خپل ځای وچه شوه چی اساسی تسلط د امریکاییانو پرغاړه و. د ۱۳۴۴ کال مظاهری که څه هم د پاچاهی د مستبد نظام د اداری خلاف مینځ ته راغله او په وینو ورنگول شوه، خو بیا هم خپله وه، په خپل ملت یی اړه درلودله او خپله قانونی او سنتی بڼه یی غوره کړی وه. د سیاسی جنبش بیلو بیلو برخو که "چپیان وو یا راستیان" د خپلو حقوقو د تأمین او آزادی ساتلو په خاطر یی هرکال مظاهری وکړی، او د خپلو شهیدانو د حقوقو دفاع یی په میړانی سره یوازی نه ده پرایښی.

البته د وخت حکومتونو یی هم د وژونو په قیمت مخه نده نیولی. خو پر دا بله خوا متأسفانه د ۱۳۸۱ کال د عقرب د میاشتی مظاهره د اختناق په نتیجه کی پر ځای پاتی او داسی تر خاورو لاندی شوه چی د تاریخ منطق یی هیڅ وخت نه هیرولای شی او نه یی د خپل استدلال او قضاوت ځخه ایستلای شی. د هم دغه دلیل و مخی موږ وایو چی خپله تاج داره دموکراسی د بل تر تانکداری دموکراسی سل چنده او زر چنده افغانی او انسانی ده. په هر صورت خبره دا ده چی دغه د عقرب د میاشت د محصلانو مظاهره تقریباً ځلویښت کاله وروسته د تیر ۱۳۴۴ کال د مظاهری په شان داسی واقع شوه چی گواکی تکرار بریښی په داسی حال کی چی د پیښی شباهتونه یی خو را سره ډیر دی اما زمانه او شرایط یی بل کُل سره بیل او توپیر لری. نو هم دغه علت دی چی موږ وایو د تاریخ پیښی کله کله په بل شکل تکرار بریښی خو تاریخ پر مُخ ځی، پرشاه نه گرځی.

اوس په خپلو ورځنیو پیښو کی ډیر داسی حوادث لیدلای شو چی په هغه کی پیښی تکرار بریښی خصوصاً په سنتی او فرهنگی پیښو کی داسی مشابه واقعات چی تاریخ په کی تکرار ښکاری ډیر دی.

د نوروز ورځ چی هرکال یی د حمل د میاشتی په لومړی ورځ لمانځو په ظاهره کی د تیر کال د نوروز د ورځی تکرار ځرگندوی، ځکه چی هغه مراسم پر ځای کوو چی هرکال مو پر ځای کړی دی. خو د هر نوروز ځخه تر بله پوری د ټولنی د ټولو اقتصادی، سیاسی، فرهنگی او ټولنیزو برخو کی داسی توپیرونه او تغییرات لیدل کیږی چی که لږ وی او یا هم ډیر، په بشپړه توگه د تیرو کلونو د نوروزونو سره بیلوالی ښیئ.

**نتیجه،**

دغه فلسفي اصل چې تاريخ پر مخ ځي او پرشا نه ګرځي، يوازې د نن ورځې د علمي څېړنو او فلسفي تحقيقاتو نتيجه او ثمره نه ده بل که، دري زره کاله پخوا لا د لرغوني يونان مشهور فيلسوف هراکليت "۴۷۵-۵۴۰ ق. م." د حرکت په نتيجه کې، په خود په خودی توګه دا کشف او توضيح کړه چې «تر يوه رود دوه واره څوک نه شي تيريدای» ده خپل نوی فلسفي کشف د طبيعت له غيږې څخه را پورته کړ، نه يې يوازې پر افلاطوني فلسفي مکتب وارونه وکړل بل که تر ننه پورې يې اصل د ټولو هغو تاريخ پوهانو او فيلسوفانو تاريخونه او فلسفي تر کره کتنې لاندې نيولي او لا بې هم ورنيسي کوم چې تاريخ د تکرارونو نتيجه ګڼي.

نوموړې د تغيير او پرمختګ فلسفه چې د علومو د کشف او تکامل په خاطر يې مؤثرترين ګامونه پورته کړي دي په راتلوونکي زمانو کې که د قدرت د ظلم په تصرف کې وي او يا هم د عدالت په غيږ کې پروته وي، د راتلوونکي عمل رهنما او لارښود دی. پوره څرګنده ده چې ډېرو وختونه يو لړ څېړونکي او محققان د نوموړې فلسفي لارښود په غيرِشعوری توګه په نظر کې لرلی خو د منلو توانمندي يې لا نه وی پيدا کړې. اما برعکس، وينو چې يو لړ فعال او ځيرک تاريخپوهان او فيلسوفان بيا د خپلو څېړنو په دوران کې ټولنه متحرکه او د پرمختګ په حال کې ويني، نو ځکه يې آثار او ليکنې جاوداني هم دي. څرګنده ده چې د تاريخ حرکت او پرمختګ خپل ځان ته داسې ټاکلې جهت او پلو هم لرې چې د تل لپاره د فنر په څير پر لوړه خيژی: پرمُخ ځي او ترشا نه ګرځي. البته ځينې وختونه د ټولنيزو پيښې مخې ته يا ممانعتونه ولوېږي او يا هم په خپله د نوموړې تکامل او پرمختګ په د ننه کې مشکلات او خنډونه زيږي. نو کله چې تاريخ د خپلو ټاکلو اصولو په رڼا کې پرمُخ ځي، داخلې منطق يې هم داسې تلاش لری چې د نوموړې پرمختګ له پاره لازمي اسناد او دلايل وړاندې کړی او د تاريخ نوموړې سيمه مصونه وساتې.

هم دغه علت دی چې د تاريخ هره پيښه او هره ژوندې پانه د خپل حقيقت او ثبوت له پاره ټاکلې منطق، اسناد، ارقام او استدلالونه لری.

هر کله چې د يوی پيښې منطقي برخه بشپړه نه وی، نو شک نشته چې تاريخ تر ملامتی لاندې او د بې منطقې سره مخامخ کيږی. په هم دی ډول د هرې تاريخي پروسې ټاکلې منطق د هم هغې پيښې د محتوا سره مستقيم او لازمي اړيکې ساتي. هيره نه کړو چې که يوه تاريخي پيښه د نورو سترو تاريخي واقعاتو له بطنه راووزی او يا هم د نويو پيښو سره ټاکليو شرايطو لاندې و تړل شي، خپل ځان ته داسې نسبي او جداګانه منطق سره لری چې قضاوت يې بيا هم په خپلو مشخصو اسنادو، ارقامو او حقايقو پورې مربوط وی. د مثال په توګه، د بُن تاريخي غونډه چې تر ملي خصوصيت يې نړيوال صفت پراخ او قوی شو، په مستقيمه توګه يې د نړيوالې مؤسسې پر چارټر او اصولو اړه لرلې ده، نو په څرګنده توګه د تاريخ منطق د قضيې د محتوا له مُخې دا قضاوت کوی چې د ملګرو ملتونو مؤسسې د ناتو په واسطه په ډيرې بې منطقي او استعماری توګه د ملګرو ملتونو هغه زرين اصل، داسې تر پښو لاندې کړی دی چې اوس نه يوازې د ناتو سازماني غړيو د خپلو اعمالو په دوران کې خپل اعتبار بايللی دی، بل که د افغانانو د وژلو تاريخي ګناه يې هم عميقاً ور په غاړه ده. بايد اشاره وکړو چې "د ملتونو آزاد سرنوشت حق"، په ارتباط په نړيوال منشور کې د يوه ملت او اولس خصوصيات چې آيا فرهنګ يې پرمُخ تللې او که وروسته پاتې وی، په تلويزيون کې سکسي فلمونه ايږدی او که نه؟ هم داسې خپل دودونه او رواجونه ساتې او که نه؟، طرح نه دی. که داسې تبعيضي او ناوړه مسايل په نظر کې ونيول شي بيا نو د توری افريقا قهرمانان خو وروسته پاته اولسونه او هيوادونه بايد ټول د منکشفو هيوادونو تر تکنالوژۍ لاندې خاورې او له مينځه ولاړشي. بل که نه، داسې نه ده. ټول هغه ملتونه او هيوادونه چې ټاکلې تاريخ او سرحدونه، يو څرګند سياسي، اقتصادی او ټولنيز نظام لری، د څرګند فرهنګ او رواجونو او داسې نورو ملي ارزښتونو او اولس ساتلو په خاطر د هر ډول دوزخي قوتونو په مقابل کې وجنګيږی، خپله خاوره، فرهنګ، دين، تاريخ او نور هر ډول ملي ارزښتونه په سر او مال وساتي، بيله شکه چې نن ورځ د جهان ټول اړخيزو او سوله ايزو مرستو ته افغانان سخت اړ دی خو بيايي هم

لومړی وظیفه هغه هیواد پالنه ده چې نړی وال شهرت لری. د جهان هر ډول لوی قدرت چې هر څومره د تیلو، طبیعی ثروتونو او استراتیژیکی سیمو وړی او تږی وی، د دی حق نه لری چې د خپل هیواد ګټی د نورو هیوادونو د خرابولو او او تسخیرولو په قیمت ترلاسه کړی. البته دا کار به یو لړ استعماری هیوادونه چې د اشغالولو او استعمارولو ډیری تجربی لری، وکاندی او تاریخ به یی هره لحظه په خپل زړه کی ثبت کړی، خو د تاریخ منطق یی په هیڅ صورت نه منی او په ډیر زور او قدرت سره یی د استعمارچیانو او یرغلګرانو مهر پر تندی ور وهی او محکوم یی بولی.

ښکاره ده چې د افغاني ټولني د بحرانونو او مشکلاتو حل یوازی په خپله د افغانانو په ګډو کوښښونو سره په سوله ایزه توګه، امکان لری. نه د بیګانه ګانو او استعمارګرانو په مداخلو او اشغالولو سره.

په هم دی ډول د هری ټولني مبارزان او د عقیدی خاوندان باید په دی پوه شي چې د زورګویانو دغه شعار "زور حقیقت دی" ځکه د منلو وړ نه دی چې تاریخ په عمل کي په زغرده څرګنده کړی او څرګنده وی چې ظالمانو د عدالت په مقابل کي همیشه تر ټاکلي وخت وروسته په سپکاوی سره سقوط کړی او سقوط کوی. دا هم ځکه چې "حقیقت زور دی" نه دا چې "زور حقیقت" البته دا هم د تاریخ د منطق یو اعلان دی.

په تیره میلادی پیړۍ کی مو په څرګنده ولیدل چې ډیرو مستعمره هیوادونو خپلو آزادیو ته ځانونه ورسول، حتی په زیمبابوی کی رییس موګابی د هغو سپین پوستکو څخه هغه ځمکی بیرته واخیستلی او خپلو وطنی او بومی خلکو ته یی وروویشلی، کومی انګریزی استعمارګرانو په ډیر وحشت او ظلم تصاحب کړی وی. په هم دی توګه د لیکني په نتیجه کی باید اشاره وکړو چې نه باید د منافعو په خاطر او بیرو په بهانو د ګُل آفتابګردان په څیر په هره لحظه کی وناڅوار یا د خپلو ملی مبارزو محتوا د لاسه ورکړو. البته هر څوک حق لری چې د خپل ذوق له مُخی په ډول ډول رسمونو او رواجونو کی ځان وپیچی، خو خبره دا ده چې دغه عمل باید د تاریخ له محک سره ووهل شی او وکتل شی چې د تاریخ منطق یی منی او که نه، د ماکیاولیزم د بوقلمون حرکتونو څخه د عقیدی څښتنان او ارادی خاوندان باید ځایونه لیری وساتی.

نوموړی ټول قضاوتونه پر دی تکیه دی چې تاریخ شاته نه ځی، پر مُخ ځی او تکامل بیل بیل پړاونه د زحمتکش انسان په کار او پراتیک پوری مربوط دی. که څه هم ځینی وختونه به د زورمندانو او زر خاوندانو په سودجویانه چالاکیو او حتی دسیسو سره د یو لړ جوړوونوکو پیښو موقتی مخنیوی وکړی، خو د ټولنیزو غوښتنو پر بنا د هر ډول چال او خطاکارۍ زمانه لنډه ده.

پورتنی بیانونه دا وړاندی کوی چې علاوه پر هر څه تاریخ خپل ځان ته ټاکلی فلسفی او منطقی داسی نورمونه لری چې د تل لپاره د ټولنیز او تاریخی حرکت په مُخکی په زغرده لارښودنه کوی، د انسان او انسانیت د پرمختګ مسیرف د نیکمرغۍ او بدمرغۍ د لوری په باب مخکی لید څرګندوی. هم دغه علت دی چې موږ وایو تاریخ نه دریږی، پر مُخ ځی، خو کله کله تکرار بریښی و ځکه نو د زمانی په ظواهرو او د زورمندانو په ذهنی قضاوتونو او دماګوژیکو اصولو باید خطا نه وزو.

پای